PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

اتحاد اسلامی

بیانگرآرمان اتحاد اسلامي افغانستان
پرلــه پسي گــنهه « ۲۲۲ » اوم کــال « ۲٤ » گــنهه دوشنبه
د ۱۳۷۰ هـ ش کــال دسنــبلې « ۱۸ » د ۱٤۱۲ هـ ق کــال
د ربیع الاول« ۱ » اود ۱۹۹۱ میــلادي کــال دسپتــمبر « ۹ »

پوهاند سیاف ددعوت اوجهاد دپوهنتون محصلینو ته په خطاب کې:

محصلین باید هره ډول ژبني ، تنظیمي اومنطقوي اختلافات هیر اوخپل ټول وخت اواستعدادونه داسلامي امت دسوکالۍ اودړنګ افغانستان دتعمیر لپاره وقف کړي

دالبنیان خبري آژانس:
موږنوی تعلیمي کال پداسي وخت اوشرانطوکې پیل کووچې زموږجهاد اودراتلونکي نسل مستقبل دکشمکشونو اوخطرناکو ګواښونو په څپوکې قرارلري اودهیڅ‌تونو ، رژیمونو اوحکومتونو په سطح زیاتو مطرحو قوتونو پوښتنه لاسونه ورکړي ترڅوددې عظیم جهاد داهدافومخنیوی وکړي اوپرې نږدي چې زموږ مؤمن ولس دخپل دین اوهیواد په وړاندې اسلامي اوتاریخي رسالت اداکړي.

دغه ټکي دموقت حکومت صدراعظم اوددعوت اوجهاد د پوهنتون اعلیٰ رئیس پوهاند سیاف ددغه پوهنتون داستاذانو اومحصلینو لوبې غونډې ته دخپلې هغې مفصلې وینا په ترڅ کې څرګند کړ چې نن سهاردهجرت کلي تراوخه د پوهنتون په انګړ کې دنوي تدریسي کال د پیل کیدو په مناسبت جوړه شوې وه.

دوی ووېل:تاسو به خبر یاست چې زموږ تعلیمي مؤسسوته چې دافغانستان دراتلونکي نسل مستقبل وربوري تړلي دي له شپږومیاشتوراهیسي معاشونه ندي ورکړ شوي اونه هم موږ دنوي تعلیمي کال لپاره کومه بودیجه لرو . زموږ دمکتبونو معلمین اواداري پرسونل نن ورځ دفقر اوګدايي شپې ورځې تیروي ، ځوک کېلي خرڅوي اوځوک هم هرسهارد مزدورۍ په انتظار په بازارونو کې په قطارونو کې ولاړوي اوځیني نور بې بیا دخپلوته بېتوګې پراته دي.

زموږ اداراتو دشمنانو پرموږ باندې ټولې دروازې تړلي او د هغو لاسونو د پرې کولو په هڅه کې دي چې غواړي له دې جهاد سره مرسته وکړي ترڅو مطلوبه نتائج ترلاسه اودمسلمانانو سترګې ورباندې یخې شي.

دغه ټول فشارونه پدې خاطر دي چې دجهاد دمقاصدواوارمانونو دمخالفینو شوم اوناځوانمردانه پلانونه تطبیق شي اومجاهدین دهغوی په وړاندې دتسلیمي سرښکته کړي. دښمن غواړي چې ددې اقتصادي محاصرې څخه دوسلې په څېر کاروانخلي ترڅوزموږ ولس دخپل قیادت اومشرتابه پر خلاف راوپاروي اوحالات کړکیچن کړي.

دموقت حکومت صدراعظم دخپلو خبرو په جریان کې ووېل: اوس چې موږهرې دروازې ته دربږو چې له موږسره دراتلونکي نسل دتربیې اوروزنې په هکله مرسته وکړي هغوی داسې شرطونه راباندې ږدي چې زموږ داسلامي عزت اوجهادي حیثیت اوددغې عظیمې قربانۍ داهدافو اومقاصدوسره منافات لري . ولې موږ لله الحمد دداسې پیش کشونو یخوا هم مقابله کړې اوآینده به هم چاته ددې اجازه ورنکړو چې زموږ دعزت اووقار په سپیڅلي لمن پردیوته دغلامۍ توردا غ ولګوي

پوهاند سیاف دخپلو خبرو په پای کې په محصلینو باندې غږوکړ چې باید هرډول تنظیمي ، ژبني اوسیمه ایز اختلافات اونزاکتونه هیرکړي یوبل ته نږدې‌دې، تفاهم اوهمکارۍ لاسونه ور کړي، اوخپل ټول وخت ، امکانات اواستعدادونه دسرګردانه اسلامي امت اودړنګ اوویجاړ افغانستان دبیاآبادۍ اوتعمیر په لارکې مصرف اوپه کاراچوي ، ترڅوفراغت څخه وروسته په خپله اسلامي ټولنه کې دبیخیرخواه داعي اوزیرک عالم په توګه تبارزوکړي اوخپل کړیدلي اومظلوم ولس ته دخدمت مصدر وګرځي.

په غونډه کې ځلوروتو استاذانو هر یو نعمت الله شهراني ، محمد یاسر، مولوي محمداسماعیل پوهاند داکټرشینواري اوپوهنتون محصل هم په خپل وارسره دعلم اوپوهې په ارزښت اودځوانانو په رول باندې مفصلې خبرې وکړې.

(۵۰) تن ازملیشه هاي کیاني باخانواده هاي شان درولایت بغلان تسلیم مجاهدین شدند

یك منبع جهادي درپشاور به (میدیا) گزارش داد بــه سلسلــه دشمني ها وبرخورد هاي مسلحانه بین گروه هاي حزب کمونیست کابل جنگ شدید سه شبانه روز بین گروه هاي خلقي تحت قومانده نظر الله ودسته پرچمي به سرکردگي غلام در ولایت جوزجان بتاریخ ۱٤سنبله بوقوع پیوسته که درنتیجه (۵۰) تن ازافراد طرفین هلاك و(۷۱) تن دیگر به شمول چهار تن ازآمرین آنها شدیداً مجروح گردیده اند .

لازم به تذکر است که درگذشته نیز بارها اختلافات بزرگي برسرتقسیم قدرت بین دوگروه حزب کمونیست بروز کرده که منجر به برخورد هاي خونین شده وعده، زیادي ازآنان درآن کشته ومجروح گردیده اند .

درغزني چار قطاع الطریق اعدام ودست یک دزد قطع گردید

چهار نفر برجرم قطاع الطریق وبرهم زدن نظم عامه درولسوالي مالستان ولایت غزني اعدام گردیدند ودست یك دزد دیگر قطع گردید .
یك منبع جهادي به (میدیا) گزارش داد چهار نفر مذکور هنگامي توسط

(۵۰) تن ازاعضاي حزب کمونیست کابل طي یك نبرد رویاروي میان خود درولایت جوزجان هلاك و(۷۰) تن دیگر مجروح گردیدند

طبق گزارش یك منبع جهادي (۵۰) تن ازملیشه هاي رژیم کمونیست کابل باخانواده هاي شان که درترکیب آنان (٤۰۰) نفر شامل است بتاریخ اول سنبله به مجاهدین تسلیم گردیده اند .
گزارش حاکیست که ملیشه هاي مذکور که سه تن ازقوماندانان شان نیز جزء آنان است وابسته به ملیشه هاي کیاني مربوط ولسوالي پلخمري مي باشند که (۵۰) میل سلاح مختلف النوع باخود آورده وبه تسلیم داده اند .

طبق راپور ، ملیشه هاي مذکور بااستفاده از عفو عمومي مجاهدین وپي بردن به کیفیت کمونیستي رژیم که بافروپاشي این نظام درروسیه درحالت درهم وبرهمي قرار گرفته است تصمیم به تسلیم شدن به مجاهدین راگرفته اند .

ملاقات یك هیئت بلند پایه ملك فهد پادشاه عربستان سعودي با رهبران تنظیم هاي جهادي

جنگ ۸ سپتامبر
یك هیئت بلند پایه ملك فهد پادشاه عربستان سعودي بتاریخ (۱۵) سنبله بروز جمعه بارهبران تنظیم هاي جهادي مقیم پشاور ملاقات هاي جداگانه اي انجام دادند . به اساس گذارش ، هیئت متذکره ذریعه طیاره خصوصي به پاراچنار رفته ودرمرز پاکستان در غند الفتح بابرادر انجنیر گلبدن حکمتیار امیر حزب اسلامي افغانستان ملاقات نموده همچنان به همین تاریخ هیئت نامبرده درنزدیکي پشاور درمنطقه پبي با برادر مجاهد استاد سیاف امیر اتحاد اسلامي نیز ملاقات نمودند .
خبر میافزاید بروز شنبه هیئت متذکره بارهبر جمعیت اسلامي استاد برهان الدین رباني ، مولوي محمد یونس خالص ومولوي سمیع الله ملاقات هاي جداگانه اي داشته ودر ارتباط باجهاد افغانستان گفت وشنودي به عمل آوردند .

د دښمن ۱۲ تنه ملیشه دجوزجان په ولایت کښې مجاهدینو ته تسلیم شوي دي

په پېښورکې د مجاهدینوخبرځاي د میډیا خبري آژانس ته رپوټ ورکړ چې د مجاهدینو دعمومي عفوې څخه په استفادې سره د کابل دکمونست رژیم (۱۲) تنه ملیشه د دوست محمد په مشرۍ د ږ ږې په (۵) نېټه دجوزجان ولایت د سرپل ولسوالۍ سره نژدې دخواجه ارچغ د قرارګاه مجاهدینوته تسلیم شویدي .
رپوټ زیاتوي چې نوموړوملیشو ۱۲ میله کلشینکوفونه اویوه اندازه مهمات او لوژستیکي مواد هم له ځا نه سره راوړي اومجاهدینوته ئې سپارلي دي .
درپوټ مطابق نوموړي ملیشه دحقایقو په پوهیدو اودرژیم څخه د کرکې په احساس اوپدې چه ټوله نړۍ کې کمونیزم د ډړې ډړې کیدو په حال کې دي له مجاهدینو سره یوځاي شویدي.

دوردګوپه ولایت کښې دکابل دررژیم دملیشو ۱۵ پوستي دمجاهدینولخوافتح شوې

د میډیا خبري آژانس
دوردګو له ولایت نه رپوټ ورکړ چې مجاهدینو د سنبلې په ۵ د چهاریکه د سیمې پرپوستو یولړ بریالي عملیات ترسره کړل چې د هغه په نتیجه کې د ملحد رژیم (۱۵) پوستي د مجاهدینو لخوا نیول شوي اوپوشمیر نورې ئې ویجاړې شویدي .
رپوټ زیاتوي چې مجاهدینو پدې جګړه کې د رژیم د پلویانو زیات شمیر منصبداران ، عسکر اوملیشه وژلي

د خوراکی موادو د کمښت له امله د کابل ښاریان له سختو ستونزو سره مخامخ دي

په روسیه کښې دوروستي ناکامي کودتا دمنفي اثراتو له امله د کابل په ښار او شاوخوا سیمو کې دسوون او خوراکي موادو کمښت ورځ په ورځ زیاتیږي .
دکابل نه پیښور ته دراغلو عیني شاهدانو دڅرګندونو له مخې په کابل ښار او شاوخواسیمو کښې دتیلو دکمبود په اثر ښاري بسونه په ټپه ولاړدي اوخلك له زیاتو مشکلاتو سره خپلوکارونو ته پیاده تګ راتګ کوي
دعیني شاهدانو دوینا مطابق دکابل

چین استقلال کشورهاي بالتیك را برسمیت شناخت

پارلمان شوروي استقلال کشورهاي بالتیك را برسمیت شناخت

پارلمان شوروي استقلال کشورهاي بالتیك یعني لتویا ، استونیا ، لیتوانیا را به رسمیت شناخت . این اعلام به روز جمعه توسط شوراي جدید التأسیس دولت که متشکل ازرهبران جمهوریت شوروي است وریاست آنرا گورباچوف به عهده دارد روي دست گرفته شد شوروي به گورباچوف هدایت داد تاکمیسوني رابراي مذاکراه باکشورهاي بالتیك روي مسایل دفاعي حمل ونقل ومالي تأسیس کند . دراین مذاکرات توجه به تضمینات حقوق اقلیتهاي نژادي مخصوصاً روسها مبذول خواهد شد.
رؤساي جمهور سه کشور بالتیك اطمینان دادندکه ازحقوق اقلیتها ومطابق به حقوق بین الدول رعایت خواهد شد .
اتحاد شوروي ضمن آنکه استقلال این سه کشور بالتیك را برسمیت شناخت وعده کرد که مساعي آنها براي شامل شدن درمؤسسه ملل متحد کمك کند واعلام نمود که سفراي خو درا به کشور ها اعزام خواهد کرد . ولي مسکو همچنان واضح ساخت که جدائي دول بالتیك باید مورد مذاکره قرارگیرد ونشانه هاي وجود دارد که این مذاکرات باهمسایه جدید بزرگ شاید بسیار مشکل وطولاني باشد . به همین ترتیب فهرست موضوعات جنجال برانگیزه که باید حل شود نیز طولاني است وآن شامل قروض تقریباً که صد

ملیشه هاي دوستم و افراد پولیس رژیم کابل یکباردیگردرولایت کندزبجان هم افتادند

آژانس خبري میدیا بانقل ازیك منبع جهادي در پشاورخبرمیدهد که ملیشه هاي بدنام رشید دوستم وافراد حارندوي رژیم کمونست کابل درکندز ، برسرتقسیم اموال غارت شده مردم بتاریخ ۱۲سنبله بجان هم افتادند.
راپورمي افزاید ، درین درگیري که ازسلاح هاي سبك و سنگین علیه یکدیگر استفاده گردید (۲۱) نفرازافراد رشیددوستم و (۸) نفرازقواي حارندوي هلاك شده اند .
همچنان (۱۲) نفرازملیشه هاي دوستم و ٦ نفرافراد حارندوي شدیداً جراحات برداشته ، یك تانك و یك عراده‌موترگاز (٦٦) طعمه‌حریق‌شده‌است.
لازم به تذکر است که بتاریخ دهم اگست نیز دربرخوردي بین ملیشه هاي دوستم وفرقه (۵۳) ملیشه هاي کیاني درکندز(۲۱) نفرازافراد دوجانب کشته و عده دیگر بشمول رئیس امورامنیتي آن ولایت مجروح شده بودند .
همچنان ملیشه هاي رشید دوستم در گذشته بارها باقواي مسلح رژیم ، حارندوي و ملیشه هاي عصمت «مسلم» درنقاط مختلف افغانستان درگیري هاي داشته و بسیاري افرادش ضمن آن ازبین رفته اند .
منبع درگزارش دیگري علاوه کرد ، همزمان باوقوع درگیري میان ملیشه هاي دوستم وحارندوي رژیم درکندز ، برخورد بین مجاهدین وقواي مسلح رژیم ملحد درمنطقه دشت آبدار ولایت مذکور صورت گرفت که تاهنوز راپورې ازجزئیات آن مواصلت نکرده است .

مجاهدینو په غزني کښې دکابل د رژیم یوهلیکوپتر رانسکور کړ

په پېښورکې دمجاهدینو یوخبر ځاي دغزني له ولایت نه رپوټ راکوي چې مجاهدینو دوري په ۷ نیټه دغزني په (۱٤) فرقې او دښار پرپوځي مرکزونو ددرندو وسلو ډزې وکړې چې په فرقه کښې موجوده یوه هلیکوپتر الوتکه چې دالوتنې په حال کې وه ولګیده اودروځــه دکــلي پــه خــوا کــښې رانســکوره شوه چې وروسته یې اووراخیست او وسوځیده .
رپوټ زیاتوي چې دنوموړې الوتکې عمله له مینځه تللي دي .

مجاهدینوپه کندهارکې دکابل رژیم یوه پوسته فتح ٦ تنه صاحب منصبان اوعسکرېي په هلاکت رسولي دي

د میډیا د خبري آژانس درپوټ له مخې د کندهار پرهوائي ډګر باندې دوري دمیاشتې په (۸) نیټه د دروندو وسلو څخه په استفادې سره یولړ بریالي عملیات ترسره کړل چې دهغې په نتیجه کې د ملحد رژیم یوصاحب منصب د یوشمیر عسکروسره مړه‌اوته ټپیان اویوه پوځي لارۍ دسپرلیو سره له منځه تللي ده .
د خبرځاي د رپوټ له مخې پدې جګړه کې د مجاهدینو څخه یوتن شهید او یوولس تنه ټپیان شویدي .
خبرځاي په یوبل رپوټ کې زیاتوي چې مجاهدینو د ورې د میاشتې په ۷ نیټه د کندهار پرفرقې برید وکړ چې دهغې په اثر د رژیم یوشمیر عسکر او ملیشه مړه ، دوه تنه ټپیان اویوه پایه د مخابرې دستګاه ویجاړه شویده درپوټ مطابق پدې نښته کې دمجاهدینو څخه هم دوه تنه ټپیان شویدي .
همدارنګه مجاهدینو دورې دمیاشتې په (۵) نیټه په کندهارکې د کوتل بابا صاحب پرپوستو یولړعملیات ترسره کړل چې په نتیجه کې د کابل رژیم دقواوڅخه یوه پوسته فتح،پنځه تنه عسکراوملیشه مړه اویوشمیرنورټپیان شویدي .
رپوټ زیاتوي چې د کابل رژیم الوتکوله مجاهدینو څخه د غچ اخیستلو په غرض د مجاهدینو پرمرکزونو سختي بمباري وکړې چې مجاهدینو ته څه ځاني تلفات ندي رسیدلي .

هفته نامه

اتحاد اسلامی

بیانګر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان
دامتیازخاوند دافغانستان اسلامي اتحاد
دتأسیس نیټه ۱۳٦٤ کال دعقرب میاشت
خپرونکي اداره : دعوت وارشاد ریاست فرهنګي څانګه

سرمقاله

دلوي اوښونکي خداي په نامه

ایثار او قرباني

له یومؤمن اومتعهد بنده څخه اسلام دحالاتو او شرایطو په تناسب په ټاکلیو فرایضو سربیره دایثار اوقرباني غوښتنه کوي ، چیرته دمال قرباني ، چیرته دموقف اومقام قرباني او چیرته دمحبوبو ؤیښو اوزوند قرباني .

ایثار دنفس اوضمیر دسپیڅلتیا څرګنده بیلګه او هغه ممیزه ده چي کره او کوږه مسلمان سره بیلوي . دغه لوړ انساني صفت یوازي په هغه چاکښي پیداکیداي شي . په دغې لیاری باندي یوازي هغه څوك تلای شي چي په الله اورسول باندي ایمان اوله الله اورسول سره مینه یې دزړه په تل کښي موجوده وی ، تش په خوله دایمان مدعي نه وی ، یوازي دګړو ترلاسه کولو له پاره یې اسلام خوښ نه وی ، یوازي دهوساینې اوسوکالۍ په حالاتو کښي مسلمان نه وی بلکي دریښتوني ایمان خاوند وی ، دمادي ضررونو متوجه کیدو په وخت کښي یې هم اسلام خوښ وی ، دجسماني کړاوونو په وخت کښي یې هم اسلام خوښ وی .له مادي مقام اومنزلت نه درالویدو په وخت کښي یې هم اسلام خوښ وی ، دمرګ له خطر سره دمخامخ کیدو په وخت کښي یې هم اسلام خوښ وی .

ایثار اوقرباني ته هغه څوك حاضریداي شي چي خداي اودخداي دین ورته له خپله ځانه ګران وی . دخداي ددین لوړتیا ته دخپل شخصي مقام اوموقف پرلوړتیا ترجیح ورکوی ، ځان سپکته کوی خو دخداي دین اونظام لوړوی ، ځان سپکته کوی خو دخداي لویدلي بندګان لوړوی ، ځان کړوی خو نورو ته له کړاو نه نجات ورکوی ، ځان بیوزلي کوی خودنورو بیوزلي ایسته کوی ، خپل ماشومان خواروی خو دنورو خواریچیان له خواری نه ژغوری اوسیاکوی یې ځان دمرګ له خطر سره مخامخ کوی خونور دمرګ له خطر نه ژغوری .

خپلي مادي اومعنوی ښیګڼي ، خپلي ظاهری اوباطني قواوی ، خپل ذهني اوجسماني صلاحیتونه دالله دقانون دلوړولو ، دالله دنظام دحاکمولو ، دظالم له پنجونه مظلومانو ته دنجات ورکولو اودمسلمانانو دخیر ښیګڼي دتامینولو په لاره کښي په کار اچوی .

هغه څوك له دغه لوړ انساني اواسلامي صفت نه محروم دی بلکي یوریښتوني اومتعهد مؤمن ورته نشي ویل کیداي چي دهغه اسلام خوښ دی خو ددی له پاره چي دهغه مادي ګټې په کښي خوندی اومحفوظي دی ، خپل سراومال ، خپل جاه اوجلال ، خپله چوکۍ اومقام داسلام وقایه نه ګرځوی بلکي داسلام جامه دخپلو خواهشاتو اوشخصي اغراضو وقایه ګرځوی . ځان دمظلومانو دنجات له پاره دظالم ګوزار ته نه سپرکوی بلکي دخپلو مزو چرچو اوپی لګښه واکمنی ددوام له پاره یې پرمظلومانو باندي دظالم دظلمونو دلړۍ جاری اوسیدل خوښیږی ، خپل خیر دنورو په بې خیری کښي لټوی ، خپله سوکالي دنورو په کړاو اوتکلیف کښي لټوی ، خپله باوی دنورو په وینو رنګوی ، خپل ځان دنورو په غوښو چاغوی ، دنورو بچي خواروی خوله خپلو خوارو بچیو څخه شاهزادګان جوړوی ، اصیل او آزاد خلك دځان غلامان ګرځوی اوخپل ځان ته وریاندی دباداری زمینه برابروی ، په خپله خوان دخداي له غلامی او نوکری نه تښتي خو نور مجبوروی چي ددوی نوکران اوسی نو په دغه راز کسانو کښي نه یوازي داچي دایثار او قرباني جذبه مړه ده بلکي داسلام په دعوه کښي هم دروغجن دی ، دخداي ریښتوني بندګان نه بلکي دخپلو نفسي خواهشاتو بندګان دی ، ددغسي عناصرو وجود داسلامي جامعي له پاره دخداي درحمت موجب نه بلکي دکړاو او سرخوږی باعث دی . مسلمانانو ته بې دښیګڼي او ګټې پرځای ضرر اوزیان رسیږی . اګرکه په وازګومی دعوه کوی چي دپیغمبر صلی الله علیه وسلم اودهغه دخوږو ملګرو پرنقش قدم روان دی خو عمل یې دپیغمبر صلی الله علیه وسلم اودهغه دصحابه ؤ دعمل پرخلاف دی .

دقرآن کریم دسوره، حشر په نهم آیت کښي دپیغمبر صلی الله علیه وسلم دصحابه ؤ ستاینه په دی مفهوم شوی ده « دمدینې انصارمسلمانان له هغو خلکو سره مینه لری چي هجرت یې کړی دی او دوی ته راغلي دی ، اوهرڅه چي هغوی ته ورکړل شی ، دهغه څه حاجت قدری هم دوی په خپلو زړونو کښي نه محسوسوی او نوروته پرخپل ځان ترجیح ورکوی اګرکه په خپله په تنګسه کښي وی هم حقیقت دادی څوك چي دخپل نفس له بخل نه وژغورل شو ، همغوی فلاح میندونکي دی » .

موږ جهاد ددی له پاره پیل کړی دی ، اودانولي ناخوالې او کړاوونه موددی په خاطر زغملي دی چي په افغانستان کښي اسلامي نظام قایم شی ، دخداي دعدل او انصاف نظام ، دظالمانو له منګولو نه دمظلومانو دنجات او آزادی نظام ، هغه نظام چي په هغه کښي امیر اوفقیر یوشانته حقوق لری ، هغه نظام چي په هغه کښي امیر ترټولو غټ مسئول ښودل شوی دی هغه نظام چي په هغه کښي شخصي اقتدار نشته ، اقتدار اوحاکمیت یوازي دالله ددین دی اوحاکمان په کښي دخداي دبندګانو دخدمتګارانو حیثیت لری ، هغه نظام چي په هغه کښي اخوت اوورور ولی ده ، صمیمیت اومحبت دی ، هغه نظام چي دفکری استبداد پرینسټ نه بلکي دوأمرهم شوری بینهم پر اساس ولاړ دی ، هغه نظام چي دناروا عمل درواګرځولو له پاره دغلطي توجیه اجازه نه ورکوی ، هغه نظام چي اختلاف دیو مهلك عمل په توګه معرفي کوی .

ددغه نظام قایمدل ایثار اوقرباني غواړی ، اوکه موږ ایثار اوقرباني خو لاڅه چي داسلامي حقوقو او واجباتو له نظام څخه دباندی قدم ږدو ، خپلو اتوپوالانو ته دهوساینې او عیاشیو زمینه برابروو اوپه نورو مسلمانانو باندي مو دژوند ابتدائي او ډیر ضروری وسایل هم نه لوربیږی ، دمجاهد او مهاجر په نامه را غلی مرستي خپل شخصي مال ګڼو او دپلرني میراث په توګه په خپله

مسئولیت های فرد مسلمان درجامعه

ترجمه : « خواجه محمد صدیق « حمید »

قسمت دوم

دیگر ازصفات قبیحه، که سزاوار شأن و حیثیت مسلمان نیست حسد و کینه ورزي است و به همین سبب رسول کریم صلي الله علیه وسلم ازآن به شدت منع نموده و فرموده است : « خودداري نمائید ازحسد ، زیرا حسد وکینه ورزي ، نیکي هارا میخورد مثلیکه آتش چوب را میخورد » .

و ازعلو شأن مسلمان واقعي ، پاکي نفس و ضمیر او ازفریب کاري و کینه ورزي و غدرو بدخواهي است ، وطبعاً این نوع صفاً و پاکي ، انسان را به جنت داخل میسازد ولو درجمله، عبادت کننده گان قائم اللیل وصائم النهار هم نباشد . أنس ابن مالك رضي الله تعالي عنه روایت مي کند که :

« بهمراي رسول الله صلي الله علیه وسلم نشسته بودیم که فرمود : « اکنون برشما مردي ازاهل جنت داخل میشود » ناگهان مردي از انصار ظاهرشد که آب وضویش ازتارهاي ریشش مي چکید و کفش هاي خویش را بدست چپ گرفته است - بفرداي آنروز پیغمبر صلي الله علیه وسلم باز همینطور گفت ، همین مرد مثل دفعه، اول دوباره داخل گردید ، و بروز سوم پیغمبر صلي الله علیه وسلم به مانند گفتار پیشین خود تکرار کرد بازهم همین مرد به مانند حالت اولیش ظاهر گردید . هنگامیکه پیغمبرصلي الله علیه وسلم برخاست عبدالله ابن عمرو بن العاص رضي الله تعالي عنه به طرف آنمرد رفت و برایش گفت که من ازپدرخویش قهر کرده ام قسم نموده ام که تا سه روز بطرف او بازنمي گردم ، اگر برایم این مدت را در جوار خویش جاي بدهید تا با شمابگذرانم ، آنمرد قبول نمود و اورا جاً داد .أنس رضي الله تعالي عنه میفرماید : بعداً عبدالله بن عمرو رضي الله تعالي عنه حکایت میکرد که سه شبانه روز را با آنمرد سپري نمود ولي هرگز ندید که قسمتي ازشب را بقیام و عبادت بگذراند غیرازاینکه بالاي بسترخویش درهنگام خواب ازپهلوي به پهلوي دیگر برمي گشت و خدارا یاد مي نمود تا اینکه به نماز بامداد برمیخاست . و غیرازخیر ونیکي چیزي دیگري ازوي هرگز نشنیدم . زمانیکه سه شبانه روز سپري گردید من این عمل اورا کم و ناچیز پنداشتم و برایش گفتم : اي بنده، خدا ! میان من وپدرم کدام مخاصمه و تزاکتي وجود نداشت و نه فرقت او منظورم بود ، بلکه از رسول الله صلي الله علیه وسلم دربآره، تو سه بار شنیدم که فرمود « اکنون مردي از اهل جنت برشما ظاهر میگردد » و سه مراتب تو ظاهر شدي ، پس من خواستم تا در پهلوي تو بودوباش کنم تا ببینم چه عملي را انجام میدهي تا ازتو متابعت و پیروي نمایم و من ندیدم که تو عملي بزرگي را انجام داده باشي ، پس چه صفت و کمالي داري که پیامبر صلي الله علیه وسلم در مورد شما فرموده اند ؟ آنمرد گفت که بغیر ازآنچه که دیدي دیگر چیزي درمن وجود ندارد . هنگامیکه ازنزد ش بازگشت کردم مرا طلب کرد و دوباره گفت : غیر آنچه مشاهده کردي دیگر چیزي نیست ، و غیر ازاینکه در برابر هیچ کسي از مسلمانان درخود غش و فریب کاري را نمي یابم و نه با کسي که خداوند (ج) اورا خیر و نصیبه، نیك عطا فرموده حسد میورزم . عبدالله بن عمرو رضي الله عنه گفت اصلاً چیزي که بتو رسیده است همین است . و این عمل وصفتي است که ما تاب تحمل آنرا نداریم

این حدیث شریف به تأثیر صفاتي نفس از دشمني و بدخواهي و رشك و طمع ورزي دلالت مي نماید ، و هم چنان به سلامتي سینه مسلمان ازبدخواهي وغدر در تعیین سرنوشت او در روز آخرت دلالت مي نماید و هم بلندي منزلت و مکانت و رفعت شأن اورا به نزد خداوند (ج) و به قبولي عمل او ولو کم باشد گواهي میدهد . و این اثر بصورت واضح و آشکارا بجرد نزدیکي این مردي که به عبادتي بزرگتر مبادرت نه ورزیده است ، ولي بخاطر صفا و پاکي قلب و نیتش و سلامتي مردم از ایذاء و ضررش بروي نمایان گردید . نسبت به آن زني که پیامبر صلي الله علیه وسلم از حالت او سوال کرده شد و او زني بود که شب را بقیام و روز را به روزه داري میگذرانید لاکن همسایگانش را اذیت میکرد پیامبرصلي الله علیه وسلم فرمود : « که او در آتش دوزخ است » .

به این ترتیب انسانیکه کفه، حسنات اودرترازوي اسلام ترجیح داده شده ازجمله، انسان صادق پاك وضمیرش خالي ازغش و غدر و حسد و بدخواهي است و لو اندك عبادت نماید .

و مثالش باوجود قلت عبادتش بمانند خشت هاي بهم چسپیده و صاف در بناي اجتماع اسلامي است . ولي انسانیکه قلب و سینه اش در نفرت و بدي و حسد و فریب کاري با مردم پیچیده است کفه، وزنش در ترازوي اسلام سبك و بي ارزش است ولو عبادت زیاد نماید . زیرا مثال آن در بناء اجتماع بمانند خشت هاي ازهم پاشیده و شکسته است .

و مسلمان نمونه ئي و مثالي که منظور اسلام است کسیست که در میان حسن عبادت و صفاء نفس و حسن معامله، توازن وهمآهنگي کامل برقرارنماید باطنش با ظاهرش مطابقت داشته و قولش را عمل تصدیق و تأئید کند .

و با همچو مسلمانان کاخ ساختمان اجتماع راشد و قوي اسلامي بناء یافته و پیشرفت و ترقي خواهد نمود و قسمیکه رسول الله صلي الله علیه وسلم وصف کرده است همانطور بارمي آید که (مانند ساختمان سرب ریخته شده، که بعضي آن با بعضي دیگر پیوند نا گسستني داشته باشد).

و اجتماع پاك و بي آلایش ، باهم مرتبط و مترقي که سزاوار حمل رسالت خدا براي مردم باشد همین خواهد بود .

و مسلمان حقیقي نه تنها در تبرئه، خویش ازاین صفات مذمومه پرداخته بلکه به اخلاق و عادات ایجابي و سازنده خودرا نیز آراسته میسازد ، و دیگران را نیز به اخلاق نیکو نصیحت مي کند چنانچه رسول الله صلي الله علیه وسلم به این قول خویش بیان داشته است : « الدین النصیحه » دین نصیحت و خیرخواهي است صحابه، کرام فرمودند براي کي ؟ فرمود آنحضرت صلي الله علیه وسلم : براي خدا و کتاب خدا ورسول او و براي امامان و پیشوایان مسلمین و عامه، مسلمین » .

و صحابه، کرام با پیامبر صلي الله علیه وسلم بالاي نماز و زکاة و نصیحت براي مسلمان ، بیعت مي کردند . و قول جریر بن عبدالله رضي الله عنه شاهد این مدعا است که فرمو ده «بیعت کردم با رسول خدا صلي الله علیه وسلم بر اقامه، نماز و اداً زکاة و نصیحت مسلمان » .

و در مقارنت نصیحت با نماز و زکاة در بیعت این صحابي جلیل القدر با رسول الله صلي الله علیه وسلم دلیلي خاصي است براهمیت آن در میزان اعمال مسلمان ، وارزش و اهمیت آن در تعیین و تثبیت سرنوشت مسلمان در آخرت .

و ازهمین جهت ازجمله، اصیل ترین عادت و طبیعت مسلمان صادق و با تقوي است که بخاطر روز واپسین و بازپرس خویش در آن مي اندیشد .

انسان مسلمان زمانیکه متولي امور مسلمین گردد به اهمیت این نصیحت در تعیین سرنوشت او در آخرت میافزاید زیرا درین هنگام نصیحت حیثیت کلیدي را دارد که توسط آن بهشت برین را مي گشاید و اگر بدنیا به آن دست نیافت دخول جنت در روز آخرت بروي حرام خواهد شد . و در این باره پیغمبر صلي الله علیه وسلم میفرماید : « هر بنده راکه خداوند اورا چون رعیت خود گرداند و چون مرگ به سراغش رسد ، وي درحال خیانت و غدر به رعیت خود بوده باشد مگر اینکه خداوند بهشت را بروي حرام سازد » .

و درروایتي آمده است :« به نصیحت خویش رعیت خودرا در احاطه قرار نداد ، پس بوي جنت را نیابد » .

و در روایتي از مسلم آمده است «نیست هیچ امیري که امور مسلمین به او سپرده شود و بعداً سعي و تلاش براي شان ننماید و نصیحت نکند مگر اینکه در جنت به همراي شان داخل نشود » .

پس بدان که چقدر مسئولیت زمامدار در اسلام عظیم است و بهمین ترتیب مسئولیت هرانسانیکه متولي امورمسلمین مي گردد عظیم و مهم است . و چقدر اثر نصیحت و خیرخواهي براي رعیت در تعیین سرنوشت راعي و زمامدار بزرگ و خطیر است بویژه درآن روزیکه مردم همه بحضور پروردگار عالمیان مي ایستند . و هنگامیکه در پیش چشمان ما مسئولیت هریکي ازما در دایره، جامعه اش تمثیل مي گردد قسمیکه پیغمبر صلي الله علیه وسلم بیان داشته است : « کُلُکُم راعٍ و کُلُکُم مسئولٌ عَنْ رَعِیَّتِه » (همه، شما نگهبانید و همه، شما مسئولید از رعیت و زیردستان خویش) شامل شدن همه جانبه، مسئولیت را در جامعه، اسلام بوضاحت درك مي کنیم که هیچ انساني از قبضه اش نجات نمي یابد و ازهمین جاست که اجتماع اسلامي حقیقي که قایم براین مبادي است از مترقي ترین أجتماعات بشري بوده و پیشرفته ترین آنها ازحیث أمن و آسایش ، پایداري و استقامت خواهد بود .

دخوراکي موادو کمښت دکابل رژیم نورهم دسقوط خواته نژدي کوي

محمدنوروز

د نجیب رژیم په لومړي سرکي دروسیي د ناکامي کودتا په ډیراحتیاط هرکلي وکړ خو خپله پوره خوشحالي یې نشوه څرګندولاي ، دغه رژیم تراوسه دهمدغوسرسختوکمونیستوناکاموکودتا چیانو له خوا په هرارخیزو مرستو سره په پښو ولاړدي اوګرباچوف هم دهغوي لاره چي د کابل دررژیم اکمالیدل دي تعقیب کړه .

د روسیي دغو بدلونونوښودله چي د روس ملت اوولس له خوادغه سرسخت کمونیستان په څرګنده توګه ورټل شول چي نتیجه یې په خپل پلان کي دهغوي ناکامي او په هغه هیوادکښي د کمونیزم د غلطي نظریي له مینځه تلل دي .

ګرباچوف چي په نړیوالو مسآلو کي یې د لویدیځو څواکونوسره تراوسه کوم مخالفت نه دي ښودلي ښاني چي دافغانستان د مسئالي د حل په باب هم د لویدیځو ځواکونو سره چي په افغانستان کي د مجاهدینو له خوا یو اسلامي حکومت نه غواړي ، هم عقیده وي . په هرحال ، خوبیاهم له دغه ناکامي کودتا وروسته په نړیوالومطبوعاتوکي داسي خبرونه خپاره شوي چي له هغه هیواد نه کابل ته د خوراکي موادو اونورود اړتیا وړشیانو لیږل بند شوي دي .

مبصرین وائي چي ښائي دغه کار په خپله په روسیه کي د بې ثباتي اوګډوډي اوپه هغه هیواد کي د زیاتو اقتصادي ستونزو سبب وي اوښائي په دغو سختوحالاتوکي به چي د سري امپراطوري د توټي ، توټي کیدو خطر موجود دي ، هغوي د کابل رژیم هیرکړي دي .

سره ددي هم دروسیي ځینومشرانو لکه بوریس یلتسین دروسیي دجمهوریت رئیس د ی دددغه کودتا په ناکامولوکي یې زیاته برخه درلوده ویلي دي چي : «شوروي اتحادباید افغانستان اوکیوبا ته خوراکي مواد ونه لیږي » .

همدغه شان د کابل رژیم ځیني هیوادونه هند ، ترکیي اوځینو اروپائي هیوادونوته لیږلي چي هغوي د کابل سره دخوراکي موادو اونورواړتیاوړشیانوبرسته وکړي .

له دغونښونښانواونړیوالوریوټونوڅخه څرګندیږي چي د نجیب رژیم د روسیي له دغو پیښو وروسته زیات اندیښمن شوي اوامکان شته چي دغه بدلونونه دځان لپاره یوکلك خطر وبولي . ځکه نړیوالو ریوټونو، دخوراکي اوسوون موادو اونورو ضروري شیانو د کمښت له امله د کابل ښاریانو حالات خطرناك ښودلي اولیکي : په داسي حال کي چي ژمي ته زیات وخت نه دي پاتي ، په افغانستان کي د ضروري شیانو بیه بې اندازې لوړه شوي ده .

ریوټونه وائي چي : په شوروي کي د کودتا د کوشش نه وروسته په غنمو بار څیني الوتکي کابل ته رسیدلي دي ، خودیپلوماتیکي منابع وائي چي په دغو الوتکو کي هندي غنم وړل کیږي ، نه دروسیي غنم .

ریوټونه زیاتوي دا لانه ده معلومه چي په افغانستان باندي دمرستو د بندولو د نه اعلام شوي فیصلي په اساس داکارشوي اوکه شوروي په خپلومشکلاتو اخته دي ددې کار سبب هرڅه چي دي ، وي به ، خو د روسیي نه کابل ته د ضروري موادونه ورتګ دکابل رژیم چي د ژوند بقایي په شوروي پوري تړلي ده وارخطا کړي دي .

سیاسي کتونکو اټکل کړي چي په سوړني ژمي کښي به په خپله په روسیه کي د خوراکي اوضروري شیانو کمښت راځي ، دوي وائي چي د روسیي په موجوده کړکیچنو شرایطو کي به کابل رژیم ته د مرستو ددوام فیصله په هغه هیواد کي د هیچا خوښه نه شي .

دیپلوماتیك ماهران وائي چي که دکابل په رژیم باندي د روسیي کمکونه بند شي نود نجیب ورځ به ډیره بده شي اوآن دومره به کمزوري شي چي رژیم به یې د سقوط له خطر سره مخامخ شي .

د کابل ښارته چي د مجاهدینو

شگفت انگیزاست که مارکسیستان وکمونیستان هم خواهان نظام دموکراسی غرب اند

تهیه ونګارش عبدالرقیب «جهید »

روس وعسکر تابندان مسلح او فروپاشي افکار ماتریالیستي ومارکسیزم ولنینزم درسرتاسر جهان وبه ویژه درحکومات وکشور هاي تحت استعمار روس آغاز گردید جنبش هاي مقاومت وضد کمونیستي ملت ها عرصه رابرحکام وزمامداران دیکتاتور وجابر کمونیزم تنگ ساخته وکمونیزم بیدادگر را درسردوراهي قرارداده است .

کمونیزم وپیروانش فقط دو راه دراختیار دارند یکي زوال ونابودي ودیگر پناه به آغوش امپریالیزم غرب وقسمیکه اوضاع وتحلیل دقیق به اثبات مي رساند ورسانه هاي خبري مشعر است به اینکه گورباچف سردمدار کاخ کرملین رسماًبیزاري خود را ازاندیشه ها وافکار مارکس ولنین وستالین اعلان نموده وبه ملت روس هوشدار داده است که مارکسیزم ولنینزم راترك کنند واین راه دیگر به نفع روسها وملت روس نیست اعتراف شخص گورباچوف دلیلي روشن است بربطلان وهذیان فلسفه، مکتب الحادي وضد انساني کمونیزم که برخلاف هولداران ومدعیان کاذبش یك ایدیولوژي وفلسفه، خرافي ، واهي وباطل است ودرین مسلك تمام موازین وقوانین فطري انساني کوچکترین ارزشي نداشته وبرنامه هاي این مکتب حیواني نه از روي اصول ، بلکه بنابر زور وترور وتزویر بنیانګذاري شده است واین مکتب فاسد ومتوحش ازکرامات واخلاق انساني بکلي عاري بوده وفقط یك چیز را مي شناسد که ماده وماده پرستي است ودرمجموع نظام سیاسي ، اجتماعي واقتصادي کمونیزم زاده، بورژوازي وکپیتالیزم وامپریالیزم است زیرا آخرین مرحله سرمایه داري وبورژوازي سرانجام به امپریالیزم وبعدتر به کمونیزم تبدیل مي گردد .

خوشبختانه دراثر قیام هاي سرتاسري ملت مجاهد وکفر ستیز افغانستان وجهاد مسلحانه دربرابر طغیان کمونیزم واردوي وحشتناك روس ومبارزات فکري ، رواني ، فرهنگي وسیاسي درپهلوي جنگ گرم درجبهات نورعلیه ظلمت ، عصر هفتاد ساله کمونیزم جنایتکار پایان یافته وستاره، بخت بانیان ولیدران وتیوریسنان ورهروان خط سرخ کمونیزم ازآسمان جهان افول کرده واین مفکوره، الحادي وشیطاني دیگر درتمام مجامع بشریت مورد نفرت وانزجار کافه، مردم قرارگرفته وحتي درداخل کشورهاي کمونستي چون پولیند ، آلمان شرق ، چکوسلواکیا وسرزمینهاي تحت استعمار واقمار روسیه قیام هاي مردمي وآزادیخواهي بشکل روز افزون اوج گرفته که همه خواهان آزادي ورهائي ازقیدودام کمونیزم وحشي شده اند وشعارهاي مرگ برکمونیزم ویرانگر ونفرین باد برمارکسیزم ولنینزم را زمزمه میکنند .درحقیقت جهاد حماسه ساز وسرنوشت ساز ملت دیانت شعار ومتعهد مکتب اسلام درافغانستان طلسم شکست ناپذیري جناح هاي خلق وپرچم وارتش طاغوتي روس راشکست وثابت ساخت که حق همیشه درهرکجاي ازجهان برباطل وباطل پرستان غالب وپیروز است وازهمین مبداء شکست باند هاي ملحد وکمونست

د روسيي وروستيو تحولاتوته يوکتنه

گورباچوف اوملي آزادی غوښتونکي تحريکونه

د شوروی په ټولنه کښی دډيموکراسی له ستونزو وکه پروسه پرمخ بيول ، دمليتونوترمينځ په کشمکشونو منجر شوي اوهم له ډيرو جهتونو څخه ددغه هيواد سياست يې له سخت بحران سره مخامخ کړی دی . سره له دې چی دمليتونو دآزادی غوښتنی هڅی په اوسنی حالت کښی د شوروی ترسرحداتو پوری محدودی دي خو کيدای شي دغه وضعيت،ديوی واحدی مجموعی په توگه د شوروی اتحاد بقاء له تهديد سره مخامخ کړی .

د ۱۹۸۹ ميلادی کال د جنوری په ۱۲ نيټه د شوروی نفوس ۲۸۶ مليونه او ۷۱۷ زره تنه ؤ . په نړی کښی دغه هيواد د زياتو مليتونو لرونکی هيواددی.

د قومی ترکيب په هکله د شوروی دورستی نفوس شماری اطلاعات تدی خپاره شوی ؛ خود نظر خښتنان په دی عقيده دی چی په دغه هيواد کښی ۱۲۸ قومی پرگنی ژوند کوی .

د ۱۹۸۹ ميلادی کال نفوس شماری په د شوروی ټولنی په قومی جوړښت کښی د پام وړ بدلون ونه لری خوهغه څه چی ډير ارزښت لری هغه دادی چی ټولی عمده پرگنی بالخصوص د منځنی آسيا قومونه د شمير په لحاظ ، مخ په زياتيدودی . په داسی حال کښی چی دنجينو نوروقومونو نفوس ، بالخصوص دبالتيك په سيمه کښی ، لږ اوډير ثابت پاتی کيږی اود ځينو نورو نفوس ، لکه ديهوداڼو ، آلمانياڼو ، مُردويشياڼو اود شمال (د شمالی سايبيريا) مخ په کميدودی . د رسمی پيش بينيو اواظهاراتو پرخلاف ، داکثروجمهوريتونو نفوس ، ورو ، ورو دهغه جمهوريت د رسمی مليت يا اصلی اوسيدونکو په گټه ، زيات متحد کيږی . اسلاو قومونه تراوسه په خپل اکثريتی مرقعيت کښی دی ، خوروسان د شوروی دنفوسپه سلوکښی ٥٠ تشکيلوی . حتی يو قوم هم د شوروی له قومی نقشی نه کم شوی ندی بلکی ددی پرخلاف ، د۱٫۱ قومونو پرڅای چی په ۱۹۷۹ ميلادی کال کښی ثبت شوي ؤ ، په رواتو کږنلاروکښی د پراخی ديموکراسی په مينځ ته راوړلو سره شل نوی قومونه رابرڅيره شول .

د شوروی اتحاد دټولنی څوقومی جوړښت له پخوانی دوران يعنی دروس دامپراطوری له وخت نه په ميراث پاتی ده اود خوبيږيو په ترځ کښی يی ځانگړی پنه ځانته خپله کړی ده . ددغی مسئلی جرړه د غوارلسمی پيړی لومړيوته ورگرځی يعنی هغه وخت ته چی په مسکو کښی ديره د روس پاچايي په مختللو جهتونو کښی د خپلو سرحداتو په پراخولو پيل وکړ . په پنځلسمی پيړی کښی نومړي حکومت د هيواد داروپايی برخی شمالی سيمه اود والگا د سيمی يوه برخه په خپله ولکه کښی راوسته اوله شپاړسمی پيړی وروسته يی د اورال اووالگا پاتی سيمی هم دروسيی د خاوری ضميمه کړی . په عين وخت کسی روسانو خپل حرکت د سايبيريا په لوری هم پيل کړ . د شپاړسمی اواولسمی پيړی په اوږدوکښی د سايبيريا ټولی سيمی اود قفقاز په شمال کښی پرتی څو نوری سيمی د روسيی پوری وتړل شوي . داولسمی اواتلسمی پيړی ترمينځ ، آکراين ، د بالتيك او بيلوروسيي سيمی اووريسی بيا په بله پيړی کښی ، نوری سيمی لکه شمالی قفقاز ، قزاقستان ، مرکزی آسيا (د خيوی او بخاراله امارت نه پرته) د روسيی د خاوری جزء شول .

د شلمی پيړی په پيل کښی د روسيی اصلی امپراطوری داسی اولسونه په ځان پوری وتړل چی د شمير ، ژبی ، مذهب ، فرهنگ ، جسمی خصوصياتو ، د پراختيا د اندازی اوداسی نورو اړخونو ، له امله له يوبل سره زيات توپيردرلود . د شوروی پوره نفوس شماری له انقلاب نه وروسته په ۱۹۲٦ ميلادی کال کښی ترسره شوه . دغی نفوس شميرنی ۱۹۰ ولی اوقومی اولسونه ثبت کړی دی .

د « ملتونودزندان » لنډ عبارت ددغه قومی وضعيت اود تزاری روسيی دتوصيف په هکله په کار وړل کيږی . د نظردغه توجيه د زيات بيرته پاتی والی او دشاوخوا سيمو د اقتصادی اواجتماعی نه پرمختگ په خراب کښی وه خوپه عين حال کښی د غير روسی مليتونوپرضد «ځواکمني » د روسيي د استقرار له پاره د تزاريزم د شووينيستی سياستونوڅخه سرچينه اخيستله . د روسيي انقلاب ؛ دتاريخ په يوداسی مقطع کښی واقع شو چی د امپراطوری په داخل کښی ملی حرکتونه د زياتی پراختيا په حال کښی ؤ اوددغو حرکتونو په مينځ کښی داسی جدايي غوښتونکی حرکتونه هم موجود ؤ چی په سرحدی سيموکښی د نسبتاً غټو قومونو له پاره د خپلواکو هيوادونو دجوړيدو غوښتونکی ؤ . د ۱۹۱۷ ميلادی کال د فبروری په مياشت کښی دتزاريانو د حکومت له سقوط نه وروسته ، مؤقت حکومت د پولنډيانو استقلال په رسميت وپيژاند اوبيايی داوکراين دخپلواکی په هکله هم يوفرمان صادر کړ . د قفقازيه هاخواکښی ، کله چی سيمه د روسيي د اردو د ترخيص شويو عسکرو لخوا خوشی شوه ، نوپه آذربايجان ، ارمنستان اوگرجستان کښی ملی دولتونه جوړشول اوتر ۱۹۲۰ او۱۹۲۱ ميلادی کلونوپوری يی خپل ژوند ته دوام ورکړ . د ملی جنگونو په دوران کښی ، دروسيی د فدراسيون په محدوده کښی زياتو خپلواکو جمهوريتونو سرونه اوچت کړل چی ټول د شوروی د مرکزی حکومت لخوا ملاتړاوپه رسميت وپيژندل شول . دبالتيك په سيمه کښی د خپلواکه هيوادونو د ايجادولو په منظور له ۱۹۱۸ نه تر ۱۹۲۰ ميلادی کال پوری يوه پيچلی پروسه په کارولويده . په ۱۹۱۷ ميلادی کال کښی د روسيي دفدراسيون حکومت دفنلنډ استقلال په رسميت وپيژاند . په دی ترځ کښی ، له ۱۹۱۷ نه تر ۱۹۲۱ ميلادی کال پوری يعنی مخکښی تردی چی « د سوسياليستی شوروی دجمهوريتونو اتحاد » رسماً جوړشی ، د شوروی حکومت نه يواځې داسی دولتونه جوړکړل چی ملی حکومتونه يی درلودل بلکی هغه مجبورؤ چی دغه دولتونه يا د شوروی په چوکاټ کښی د سوسياليست دولت په عنوان ، اويا د سرحدونونه بهر د بورژوادولتونوپه توگه ، په رسميت وپيژنی . په هرحال ، دقومی سياستونو په هکله د لنين اود بلشويك د گوند په وسيله د ملی سرنوشت د ټاکلو د حق مطرح کيدل ددی ښکارندوی دی چی ددغو مليتونو مبارزو اودهغوی قدرت اوځواك ته امتيازورکول ؤ .

دغی مسئلی پرڅيپانو پاندی دهغوی بريالیتوب چی د يوی قاعدی په عنوان يی د روسيی له « يوالی » او « ويش نه قبلولنی » نه ملاتړکړی ، اودهيواد دفدرالی کولو مخالف ؤ ، ډيرآسانه کړ . په پای کښی دغه نوی سياسی استراتيژی تقريباً د تزاری روسيی د ټولو ځمکواو ټولو مليتونو (پرته له پولنډ ، بالتيك او فنلنډ نه) د ساتني په امکان منجرشوه (تر۱۹۱۷ ميلادی کال پوری چی لنين په روسيه کښی د سوسياليستی انقلاب امکان پيش بينی کاوه ، خپل ځان يی دفدراسيونی حکومتی نظام د جوړيدو مخالف اعلان کړی ؤ) . د حکومتی اداری ويش په هکله د ملی « قومی » سرحداتو په بنسټ د « سيوسياليستی فدراليزم » د اصل اعلان ، د شوروی اتحاد جوړيدوته د داسی بنسټ بنه ورکړه چی دمحفوظ پاتی کيدو ادعايی تراوسه کيږی . د شوروی د ۱۹۷۷ ميلادی کال اساسی قانون ، چی اوس هم معتبردی ، په حقيقت کښی د استالين د ۱۹۳٦ ميلادی کال اساسی قانون تينگوی ، ځکه چی له دی نظرنه يی وده کړی چی «دشوروی اتحاد مجموعه ۹ جغرافيايي سيمی او اداری واحدونه نه دی بلکی دملتونو دولت دی » .

دغه نظر په دغه خاص مورد کښی ، په دی معنادی چی پنځلس متحد جمهوريتونه د يوه فدراسيون لاندی دی . په هرحال له دغو مليتونوڅخه پوشمير چی زيات نفوس هم لری بالخصوص هغه مليتونه چی د نفوسو زياته برخه يی دشوروی له پولونه بهراوسيږی ، هيڅ وول د خپلواکی حق نه لری اوکه يی درلودلی دی نود ستالين په دوران کښی له هغونه محروم شوي دي لکه : (۲ مليونه المانيان ، ۱/۲ مليونه پولنډيان ، ۴۱۰ زره کورياڼيان ، ۳۷۰ زره بلغاريان ، ۳۵۰ زره يونانيان ، ۱۸۵ زره کرليان «Gypsies » ؛ ۱۸۵ زره خاکاسيان "Gauguzi" ؛ ۱۷۵ زره مجاريان ؛ ٤۰۰ زره تاتاريان اونور) .

د ملتونو د سرنوشت د ټاکلو حق ، اوله هغه نه د مشتقو سياستونو اساسی اوغټ مفهوم په اروپا کښی هم ريښه اوسابقه لری يعنی په همغه ځای کښی چی دغه مفهوم ، د شلمی پيړی په لومړی نيمايي کښی رانبکاره شو . دغه مفهوم دو ملی اصل » د پيژندلو له پاره د«بورژوا دډيموکراتيکو » اصلاحاتو يوه برخه جوړه وله (يعنی د خپل حکومت دټاکلو له پاره د يو ملت حق) . دکمونيستانو د اوياکلونو حکومت په ترځ کښی ، دغه فکر له سختو پيچلو بدلونونوسره مخامخ شوی دی . د يوه ظاهری امرپه توگه ، دغه اصل د شوروی په ټولو اساسی قوانينو کښی تصريح شوی اوهمداراز ادعا کيږی چی د خلکو دآزاد پرمختگ اودهيواد د يووالی دساتنی له پاره يو اساسی شرط دی ، ميخائيل گورباچوف د ۱۹۸۸ کال د جون په مياشت کښی د حزب کنفرانس ته دوينا په ترځ کښی ووېل : « د سوسياليزم له محصولاتوڅخه يوهم زموږ په هيواد کښی له مساوی حقوقو سره يوځای د خلکو اومليتونو ديواتحاد جوړول ؤ . دغه مسئله موږته اجازه راکوی چی نن ورځ په زيات باور سره ووايو چی له دی وروسته به هم د ملتونو په هکله د لنين دسياستونو يومخه اجراء کولای شی دپرمختيا له پاره يوټينگ بنسټ مينځ ته راوړی » .

په هرحال ، په عمل کښی د ۱۹۲۰ او ۱۹۳۰ لسيزو په ترځ کښی « قاطع اوغوڅ آمرانه اداری نظام » له بيوروکراتيك اوعمودی جوړښت اويوځواکمن مرکز سره جوړشو اوهيواد يی له يو فدرالی حکومت نه په يوداسی څيز بدل کړ چی عملاً يو آمرانه او متمرکز حکومت ؤ . په يووخت کښی دستالين رژيم د ټولو مليتونو پرضد ديوره ظالمانه او واقعی قتل عام دستور صادر کړ او په دي توگه يی ملی خپلواکی له مينځه يووړه اود اعدامونو اود اجباری کارد کمپونو په مينځ ته راوړلو سره يی د خلکو په ټکرلو اوځپلو لاس پوری کړ . سره له دی چی د دويم نړيوال جنگ په ترځ کښی يو پيچلی وضعيت موجود ؤ خوپياهم د نظامی قدرت اوپلان شوی پروگرام له مخی دليتوانيا ، استونيا اولتويا استقلال اوخپلواکی له مينځه ولاړه اويه ۱۹٤۰ ميلادی کال کښی د شوروی ضميمه شول . د استالين له مرگ نه وروسته د مرکزی قدرت د زياتولو اود مليتونو په هکله دهيواد د اوسپنيزسوك د سياست دخپلولوپروسه د ۱۹۸۰ لسيزی ترنيمايي پوری دوام پيداکړ .

د گورباچوف له راتگ سره سم په شوروی کښی يوشمير اصلاحات مينځ ته راغلل اوورسره ددغه هيواد په ځينو سيموکښی د حکومت د سياستونو په مقابل کښی د اعتراض په عنوان ځينو مليتونو خپل غراوچت کړ . د گورباچوف په دوران کښی د مخالفت غرگندولو لومړی سريزه داسی وه چی د شوروی دکريميا د سيمی يو شمير زياتو تاتاريان د کريملن د ماڼی په وړاندی راټول شول اودخپلواکی د حق او هم خپل پلرنی ټاټوبی ته دورستنيدو غوښتونکي شول .

د دولتی مقاماتو عکس العمل په دی ارتباط تقريباً نرم ؤ اوحتی تاتاريانوته يی خپل اصلی ځای ته د ستنيدو اجازه ورکړه (البته د خپلواکی د حق نه پرته) . له دينه وروسته د ليتوانيا ، استونيا ، آذربايجان اوارمنستان په جمهوريتونوکښی دناکراری څپی په غورځنگ شوی چی په دی ترځ کښی د آذربايجان اوارمنستان ترمينځ اختلافاتودوخت په تيريدوسره نور پراخ ابعاد ځانته غوره کړل .

په هرصورت په دی هکله د « هريټج

په شوروی کښی عمده قومی پرگنی

قومی پرگنه	شمير	فيصده
روسان	۱٤۳٫۵۰۰٬۰۰۰	٫۵۱/۷۳
اوکراينيان	٤۳٫۵۰۰٬۰۰۰	۱۵/٦۸
ازبکان	۱٤٫۸۰۰٬۰۰۰	۵/۳٤
بيلوروسيان	۹٫۷٦۰٬۰۰۰	۳/۵۲
قزاقان	۷٫٤۷۰٬۰۰۰	۲/٦۹
تاتاريان	٦٫٦۰۰٬۰۰۰	۲/۳۸
آذربايجانيان	٦٫۲۷۰٬۰۰۰	۲/۲٦
ارمنيان	٤٫۵۸۰٬۰۰۰	۱/٦۵
گرجيان	۳٫۸۰۰٬۰۰۰	۱/۳۷
تاجکان	۳٫٤۵۰٬۰۰۰	۱/۲٤
مولداويان	۳٫۱٦۵٬۰۰۰	۱/۱٤
ليتوانيان	۲٫۹۸۵٬۰۰۰	۱/۰۸
ترکمنان	۲٫٤۰۰٬۰۰۰	٫/۸۷
قرقيزيان	۲٫۲٤۰٬۰۰۰	٫/۸۱
آلمانيان	۲٫۰۰۰٬۰۰۰	٫/۷۲
چوواشيان	۱٫۷۹۰٬۰۰۰	٫/٦۵
يهوديان	۱٫۷۵۰٬۰۰۰	٫/٦۳
باشقيريان	۱٫٤۷۰٬۰۰۰	٫/۵۳
لاتويان	۱٫٤٤۵٬۰۰۰	٫/۵۲
مُردويان	۱٫۱٤۰٬۰۰۰	٫/٤۱
پولنديان	۱٫۱٤۰٬۰۰۰	٫/٤۱
استونيان	۱٫۰۳۰٬۰۰۰	٫/۳۷
نور...	۱۱٫۱۱۵٬۰۰۰	٤/۰۰

شگفت انگيزاست که ...

کمونيزم ونظام بيدادگران مااين اعتراف گورباچوف وتيوريسن هاي کمونيزم رااگر چه قابل توصيف ودرخور استقبال قرارالميدهيم مگر دست کم ازشکست افتضاح آميز اين مکتب بي بنياد وويرانگر که ازعظمت جهاد اسلامي ملت الحاد ستيز مادرسراسر جهان تمام مسرور ميگرديم واين پيروزي وبابهتريگوئيم فتح مبين راکه به قيمت خون بيش ازيك ونيم مليون شهيد راه حق وآزادي بکمال افتخار کمايي کرده ايم بزرگترين دست آورد انقلاب اسلامي ماست . جهاد افغانستان درواقعيت روحيه، قيام ، آزاديخواهي وپيکار را دربرابر اژدهاي سرخ واردوي خونخوار روس بجهانيان علماً وعملاً آموختانده وراه زندگي فارغ ازقيد واسارت ورعب ووحشت رابراي بشريت پيام جاويدان داد ومامعتقديم که عقيده، اسلامي مکتب، انسان ساز ونجات بخش اسلام سرانجام عقيده ودين ونظام تمام طبقات مردم درشرق وغرب جهان خواهد گرديد . اسلام عزيز اکنون بجنگ شديد عليه غرب ورادبکال ها وصليبيون مي پردازد چه آشيانه، تمام مفاسد وجرائيم همين غرب وامپرياليزم جهانخواراست . وامروز که کمونيزم وکمونستان جنايت پيشه درانظار جهان وجهانيان بدنام وناکام وسرافگنده شده اند روي عادت وخصلت همشگي شان مسئوليت جنايات سنگين واعمال ننگين خود را بدوش اسلاف گذشته خود انداخته وبه آستانه، نظام کپيتاليزم غرب وديموکراسي راه ومکتب کمونيستي را که تاديروز ازجنت خيالي سوسياليزم وطبقه، کارگر وانقلاب نوين وصدها شعار هاي مزورانه وعوام فريبانه جال سرخ رادرسراسر جهان بگسترده بودند وملت ها وکشورهاي آزاد را درچنگال خونريز ارتش سفاك وبي رحم خود بقتل رسانيدند ، دارايي هاي عامه رادزديدند وبه ناموس وعزت مردم هتك حرمت کردند وهزاران وحشت وخونريزي رامرتکب شدند چو به نتيجه اعمال شوم خود متوجه شده اند يکباره جهت برائت ذمه مباني واصول فاسد کمونيزم راغير مفيد ومخالف منافع استعماري خود خوانده يا ازروي نفرت وياخدعه وفريب ميخواهند دنبال ديموکراسي غربي روند ونظام هاي کشوري خود را مجدداً تغيير دهند مگر کمونستان ودرراس سردمداران کريملين بايد بداند که خون مظلومان وقربانيان فاجعه هاي اکتوبر وهفت ثور وديگر انقلابات به اصطلاح کمونستي وکارگري که مليون ها انسان ومسلمان قربان وحشت وديکتاتوري غير انساني کمونيزم شده اند طوفاني است هيجاني که تاکاخ وکوخ وبرج وبيار وآخرين فرد کمونست را ازين نبرد خاموش نمي شود ، امروز اگر امريکا وکشور هاي بزرگ طاغوتي پناه سياسي کمونستان را مي پذيرند وبراي شان فرصت مجال ميدهد تادرتحت نظام فرسوده ديموکراسي که گورباچوف خواهان آن است زندگي خود وملت هاي تحت ستم خودرا بيمه سياسي کنند مگر اسلام فرصت ومجال آنرا نمي دهد تاکمونيزم وامپرياليزم براي بقاي جنايت خونريزي ونقشه هاي استعماري خود به چنين بازي خطرناك دست وبازند اسلام جهاد ومبارزه، خود رابجانب غرب وغرب گرايان دستور ميدهد وهدف اسلام آنست که تمام آثار ريشه هاي فتنه وفساد وکفر والحاد قلع وقمع گردد واسلام حکومت کند براي مجاهدين راه حق قضاياي سياسي وجهان ازديدگاه بينش اسلامي وبصيرت فکري وبافرهنگي آشکار است اگر يك کمونيست ديموکرات شود يا راديکالي کمونيست شود ، ماترياليستي ، کاپيتاليست شود يا بورژوازي ، سوسياليست شود همه وهمه درمقابل عملکرد برنامه هاي الهي وموازين شريعت اسلام کفر والحاد خوانده مي شود بناً يك ملحد وکمونيست اگر امروز ازکمونيزم اعراض وانزجار ميکند وبطرف ديموکراسي وغرب تمايل پيداميکند اين تغيير وروش او ازسنگيني جناياتش نمي کاهد واسلام طوريکه باکافر روسي جهاد رافرض ميداند باکافر امريکائی هم فرض ميداند واسلام دربرابر تمام مکتب ها وافکار ونظام هاي جاهلي والحادي مي ستيزد پس امروز فريضه، ما مسلمانان است تا باامپرياليزم غرب وکپيتاليزم همان پيکار ونبرد رادرصحنه، عمل تبارز دهيم که باکمونيزم وجناح هاي ماترياليست خلق وپرچم داشتيم تابه ياري خداوند پوز امپرياليزم راهمچو حريف باستاني اش کمونيزم روس بخاك ذلت بماليم . انشاء الله تعالی .

ابتلاکې کمونست

« غمگين »

شرمسارشو په دنيا کې کمرست
سراسرټولنه آسيا کې کمونست
اويا کالـه په باطل خيال د گرندی
وو غلط فکر سودا کې کمونست
ناگهان حرج مرج ته شول په غم
په يرأن د ابتلاکې کمونست
ککری شوي لاندي پاندي لابه شی
چې اخته شو په بلاکې کمونست
چې شعاريې وو جهان ته تا شکست
اوس دي ځان خوری نن سباکې کمونست
چې کول ئی زور ظلمونه،خود به وی
د زوال شور اوغوغا کې کمونست
ای « غمگينه » ته ئی خاری هرپواړخ
چې به څه وی مدعا کې کمونست

دخوراکي موادو...

ترکلکي کلا بندي لاندي دي ، زرترزره خوراکي اونور د اړتيا ورشيان ونه رسيږي ، ښاني چي له هغه ښارنه دمهاجرينو تگ پاکستان اود مجاهدينو تړلاس لاندي سيمونه لازيات شي اويه دي پول به په هغه ښارکي يوازي دنجيب دررژيم عمله اوپلويان پاتي شي . مبصرين وائي چي که له روسيي نه پرهغه رژيم باندي د مرستو بندول دوام وکړي د مجاهدينو لپاره د يوي ستري اوچتکي حملي ښه زمينه برابريږي اوښائي چي په دي حمله کي به د رژيم پوځ د نجيب پرخلاف د مجاهدينو ملاتړوکړي اوپه دي اساس به دغه پوځ د خپلي وانتلونکي لپاره خپله لار په خپله پرانيزي .

ايثار اوقرباني

خوښه تصرف په کښی کوو ، دفکری استبداد ترولولی لاندی يوازی خپل نظر راته سم او صواب ښکاری ، دنورو نظر راته نه سم اومعقول ښکاری،اونه ورته دمراجعي کولو اړتيا احساسوو ، دخپلی هوسايني ديرقرار ساتلو له پاره دجهاد پرسر تجارت ته حاضريږو اوغير اسلامی حلونو ته غاړه ږدو اويه څنگ کښی يی داسلامی نظام دعوه کوو نو دالاره ترکستان ته تللی ده نه کعبی ته .

غاصب حق يتيم وبيوهء زاري نباشي

سعي کن جانم اگر گل نيستي خاري نباشي
گـرزدوشي بارسرداري نـه ئي بـاري نباشي
شير شو تا ديگـران ازپنجه ات قوتي بجويند
همچـو روبـاه دربي هـرلاش مرداري نبـاشي
شـاه بـاز اوج گيرو شوهـاي سايـه افگن
همچـو بوتيمـار انـدرکنج ديواري نباشي
حاتم طـائي صفت برديگران ايثار بنما
بـردر هـرسوسمار خوارو ملخ خواري نباشي
طائرسدره نشين باش نـه چو مرغ فضله خواري
دشمن گـردن کشان ياوي مـددگاري نبـاشي
ظاهـر وهـم باطنت را کيميـاسان پاك سازي
سبحه برکف تـوبـه برلب اهل زناري نباشي
يـوغ استعمارو استثمار را ازشانـه افـگن
در ره مستکبرين جـزنيشتـرخـاري نباشي
گرخـدا توفيق بخشد کرسي عـزت نشيني
غاصـب حـق يتيم و بيوه، زاري نبـاشي
شـمع بزم ميهنت شو خـارچشم دشمنت باش
چـون کمونستان ظالم مردم آزاري نبـاشي
آنکه ميهن را برخـاك وخـاك آن بريـاد دادند
همچـو ايشان دين فروش وبيت وغداري نباشي
باشرافت زندگي کن خالـقت را بنـدگي کن
چـون نجيب قدرت طلب روباه مکاري نباشي
پيروي احکام دين شو نـه به شرق وغرب غاصب
مطمئـن برحرف هرخرس شکم خواري نباشي
من رفـيع زاده تمنا ميکنم ازخـالق پـاك
منفعل درهـردو دارين نـزدقهاري نبـاشي

د کندهار او بادغیس په ولایتونوکښې دملحد رژیم دوتنه صاحب منصب له پنځو تنو عسکروسره وژل شوي او ۲۰ تنه ملیشه مجاهدینوته تسلیم شوي دي

مجاهدینو دکندهار اوبادغیس په ولایتونوکښي دبیلابیلو بریدونوپه ترځ کي دکابل دکمونیست رژیم دوه تنه صاحب منصبان دپنځو تنو عسکرو سره وژلي او (۲۰) تنه وسله وال ملیشه مجاهدینوته تسلیم شویدي .
په کویټه کښي دمیدیا نمایندګي دبادغیس له ولایت نه دیوه رادیوي پیغام په حواله رپوټ ورکړي چي مجاهدینو دسنبلي په یولسمه نیټه ددغه ولایت دبوم په دره کښي دحاجي اختر پرپوسټو بانْدي چي دقلعه نو دښار په شمال ختیځ برخه کي پرتي دي بریدوکړ چي دهغه په نتیجه کي دکابل دملحد رژیم زیات شمیر عسکر اوملیشه مړه ، یوشمیر نورټپیان اوددوي یوشمیر پوځي ځالي ویجاړي شویدي .
رپوټ زیاتوي چي ددغي جګړي په دوران کښي دنوموړو پوسټو څخه (۲۰) تنه ملیشه دیومیل هاوان ، دري میله راکټ ، دوه میله زیکویك ، دوه میله درندي ماشیندارې ، دوه میله کلاشینکوفونه اویوي اندازي مهماتو او لوژستیکي موادو سره ، مجاهدینو ته دعمومي عفوي نه په استفادي سره یوځاي شویدي .
دخبر مطابق پدي جګړه کښي دمجاهدینو دتلفاتو په هکله څه ندي ویل شوي .
دغه راز دخبر ځاي دیویل خبرله مخي دمجاهدینو یوه تن ارتباطي لخوا دکندهار دفرقي په دننه کي دیو ځاي پرځاي شوي مین دچاودیدو له امله دسنبلي ۷ نیټه دکابل رژیم دقواؤ دوه تنه صاحب منصبان دتورن عبدالشکور اوبریدمن نورمحمد (اکمل) په نامه دپنځو تنو عسکرو سره له مینځه وړل شویدي .
دخبر ځاي له مخي پدي پیښه کي درژیم دقواؤ په پوځي مهماتو یوه بار لاري داورلمبه شویده .

دولایت بلخ پنج پوسته دشمن فتح گردید

راپور واصله ازولسوالي چمتال ولایت بلخ حاکیست که سرسپردګان راه حق بتاریخ ۲۸ سرطان بالاي پوسته هاي به اصطلاح امنیتي ملیشه دوستم عملیات نمود ندکه درنتیجه پنج پوسته فتح و ۲٤ تن ازملیشه هاي دوستم هلاك ګردیدند .
راپور علاوه میکند که دراین عملیات یك عراده تانك زرهپوش دشمن تخریب ویك عراده موتر ګاز ٦٦ ، دومیل ګرینوف ، ۱۱ میل کلاشینکوف ویك میل راکت انداز به غنیمت مجاهدین درآمد .
همچنان یك نفر مجاهد بنام عبدالرؤف ولد ولي محمد شهید وپنج تن دیگر مجروح ګردیدند .

ملك فهد از رئیس جمهور ایران دعوت بعمل آورد تاازعربستان سعودي بازدید نماید

صداي امریکا – ۱۷ سنبله

علي اکبرهاشمي رفسنجاني رئیس جمهور ایران دعوت عربستان سعودي را جهت بازدید ازآنکشور پذیرفته و میګوید که ازعربستان دیدن خواهد کرد .

ایران و عربستان سعودي بعد ازمیان آمدن انقلاب اسلامي در ایران روابط خودرا به سرعت بهبود مي بخشد .

دعوت ملك فهد پادشاه عربستان سعودي ازجانب وزیرخارجه آنکشور که اکنون ازایران بازدید میکند به رئیس جمهور رفسنجاني سپرده شد .

فرستاده عربستان سعودي بهبودي روابط را ستوده و اظهارآمید کرد که روابط به توسعه خود ادامه بدهد .

د روسیې د فدراسیون پارلمان د لیننګراد ښاربانْدي د سن پیترسبورګ نوم کیښود

دروسیي دجمهوریت پارلمان موافقه کړي چي دلیننګراد په ښاربانْدي دي بیرته دسن پیتر سبورګ نوم کیښودل شي . ځکه چي دغه ښار څه دپاسه دوي پیړي په همدي نوم یادیده . دغه ښارلوي تزارپیتر آباد کړي ؤ .
دروسیي دفدراسیون دپارلمان اجرائي کمیټي دجمعي په ورځ دهغه ریفرانډم نتایج ومنل چي دجون په میاشت کښي په لیننګراد کښي شوي ؤ . په دغه ریفرانډم کښي په سلوکښي ٥٥ تنو رأیه ورکړي وه چي په دغه ښار بانْدي دي بیرته خپل پخواني نوم کیښودل شي . لوي پیتر دپیترز برګ ښار په ۱۷۹۰ کال کښي آباد کړي ؤ . لوي پیتر غوښتل چي دروسیي په دولت کښي اصلاحات راولي اوله دي کبله یي دروسیي خلك مجبوروول چي داروپا هنر اوعلمیت نه ګټه واخلي . مېتکر اومستبد زار فیصله وکړه چي یونوي پایخت جوړ کړي یعني داچي له مسکونه مرکز بل ځاي ته ولیږدوي . په مسکو کښي دروسیي ارتدکس کلیسا سره یوځاي دروسیي محافظه کار شهزادګان دلوي پیترد اصلاحاتو مخالف ؤ . دلومړي نړیوال جګړي لـه شروع کیدونـه سمدستي وروسته دپیترز برګ په ښاربانْدي دپیترد ګراد نوم کیښودل شو .

در انفجار اخیردر سلاح کوت نمبر ۲ پلچرخي خسارات وارده بردشمن چشمگیر بوده است

باساس سند ، نیتجه، تحقیق هیئت مؤظف وزارت دفاع رژیم ملحد کابل مرکب ازنمایندګان فني وزارت هاي امنیت دولتي وداخله ونماینده فرقه ۸ که نقلي ازآن بدست مارسیده است ، درحادثه حریق دیپوي مذکور که ازاثر اختلافات داخلي افراد رژیم بوقوع پیوست ، به شرح ذیل به وزارت دفاع حکومت کابل ګزارش شده است .
تعداد سلاح هاي کاملاً سوخته عبارت اند از :

۱- بي ام ٤۱	۱۳	میل
۲- بي ام ۱۳	٤٤	رر
۳- بي ام ۱۲	۱۸	رر
٤- توپ اویوس	۳٦	رر
٥- توپ دیسي	٤	عراده
٦- توپ ۷٦ صحرآ	۱۲	رر
۷- ۷٦ کوهي	۳	رر
۸- هاوان غرني	۳۱	میل
۹- هاوان ۸۲ وسط	۲	رر
۱۰- هاوان چریکي	۳۸	رر
۱۱- زیکاویك	۱۲	رر
۱۲- پیکا پي	۳٤	رر
۱۳- پیکا تي	۱۹	رر
۱٤- بردیم	۱	عراده
۱٥- تانك ۳٦	۲	رر
۱٦- کلاشنکوف	۷٤٦	میل
۱۷- کرینکوف	۱	رر
۱۸- ګرینوف	٥۸	رر
۱۹- شینکوف	۱٤	رر
۲۰- ماشیندارداقع هوا	٤	رر
۲۱- ماشیندار ٤ میله	۱۲	رر
۲۲- موترګاز ٦٦	٤	عراده
۲۳- موترریل	۲	رر
۲٤- موترجیپ	۲	رر
۲٥- موترسائیکل	٦	رر

درکاپي سند که ازسوي هیئات بررسي به وزارت دفاع ارائه شده علاوه ازسلاح مختلف النوع فوق آمده است ، اسکلیت سلاح هاي سوختګي که نسبت شدت آتش ذوب وتشخیص نوعیت جنس آن ناممکن بود جمعاً به (۸۱۹) پارچه ومیله ، آهني میرسد که شاید تعداد آن به هزار ها میل سلاح مختلف بالغ ګردد ، درپایان سند که رئیس کشف وزارت دفاع امضاء نموده است ګفته شده طبق ماده (٥٥) قانون جزاي عسکري مؤظفین شب حادثه مذکور که به اصطلاح دراجراي وظیفه محوله غفلت نموده اند فعلاً درحبس بسر برده وتحت تحقیق قرار دارند .

کشمیري مجاهدینو په سرینګرکي (۷٤) هندي پوځیان ووژل

دسنبلي (۱٥) نیټه
دنیول شوي کشمیر په لال چوك کي دکشمیري مجاهدینو اوهندي پوځیانو دلاس په لاس نښتو په ترځ کښي ٤۷ تنه هندي پوځیان په هلاکت ورسیدل او یو تعداد نور په کلکه ټپیان شول .
همداراز په بډګام ، پلوامه ، سوپور ، اننتناګ اوکپواړه کي هم خونړي نښتي شویدي .
د بي ، بي ، سي راډیو په قول دنیول شوي کشمیر په پلوامه کي‌دهغه ځاي مسلمانو خلکو دهندي پوځونو دهغه ځاي دخلکو دوحشیانه عامه وژنې پر خلاف په مظاهرو لاس پوري کړي دي
دخبر له مخي کشمیري مجاهدینو په پلوامه ، سوپور ، باره موله اننتناګ ، قاضي ګنڈ ، اچهـ بل اوشي پوره ، شوپیان ، پاندي پوره اوګاندر بل په سیمو کښي دخپلو عملیاتو په بهیر کښي ۲۷ تنه هندي پوځیان په هلاکت رسولي دي .

کندز ولایت کي د کمونستودلوترمینځ خونړۍ نښتي

کندز سارکي دملیشه ؤ (۳٥) فرقي ترمینځ دنښتو په نتیجه کي دکندز دامنیت په مشر برسیره شل تنه په هلاکت رسیدلي او ۱۲ تنه نور ټپیان شوي دي .
دخبر په اساس دغه نښته دهغو مالونو دویش په وخت کښي شوي ده کومه چي ملیشي او پوځیانو دخلکو له کورونو لوټ کړي وو . پدغو کي چي له درنو اوسپکو وسلو څخه کار اخیستل کیده دکابل دګوډاګي رژیم پوټبانـک او یو پوځي لاري هم داور. خوراك شول .

وزیردفاع امریکا تنقیص بودیجه دفاعي آنکشور را قبل ازوقت خواند

صداي امریکا – ۱۷ سنبله

ریچاردچیني وزیر دفاع امریکا ګفته است که تنقیص بودیجه، دفاعي امریکا قبل ازوقت است زیراکه اصلاحات در اتحاد شوروي هنوز درمراحل اولي قراردارد .

وزیردفاع امریکا همچنان ګفته است

وي میخواهد که با بفکینش پوشنیکوف وزیردفاع جدید شوروي مذاکره نماید چیني ګفت که براي وزیردفاع جدید شوروي دعوت نامه اي فرستاده شده است تا ازآیالات متحده آمریکا بازدید نماید . ریچارد چیني اظهارامید کرد که کانګرس امریکا بودیجه دفاع استراتیژیك رئیس جمهوربوش را تصویب کند این عبارت ازسیستم دفاعي ضد راکت مستقر درفضا میباشد . وزیردفاع امریکا میګوید که تحولات در اتحاد شوروي و تهدید منازعات منطقوي مانند جنګ خلیج چنین یك سیستم دفاعي را نظربه هروخت دیګرمهمترمیسازد .

د خوراکي موادو کمښت ...

ښار دننه اوهم په شاوخواسیمو کي لکه باغ بالا ، ده کیپك ،قلعچه، بیني حصار اونورو سیمو کي ښاري بسونه اوموټري دتیلو دنه پیداکیدو په وجه ولاړي اوخلك درسمي کارونو اونورو ضرورتونو له امله له زیاتو مشکلاتو سره مخ شویدي .
عیني شاهدان زیاتوي دکابل کمونیست رژیم دنظامي قواؤ اود جاسوسي شبکي مربوط وسایط دتیلو دپخوانیو ذخیرو څخه استفاده کوي . خو خلکو ته دتیلو له نشتوالي له بحران څخه دوتلو په هکله ددرواغو وعدي ورکول کیږي ددغو ځرګندونو له مخي دکابل ښار جنوب لوګر ولایت د موټرو تګ راتګ بیخي بندشویدي .

بوریس ایلتسین : انتقال تمام اسلحه، ذروي شوروي به جمهوریت روسیه ده سال را دربرخواهد ګرفت

بوریس یلتسین رئیس جمهور فدراسیون روسیه میګوید که انتقال همه اسلحه، زروي شوروي به جمهوریت روسیه تاده سال را دربرخواهد ګرفت .

یلتسین دریك کنفرانس مطبوعاتي درمسکو ګفت که چنین انتقال اسلحه ملیاردها دالرمخارج خواهد داشت ولي بقول اوچنان یك اقدام منطقي خواهد بود .

اما مطبوعات شوروي بروز جمعه ازقول واچسلاف چرنوبل یك عضومجلس مقننه وکاندید ریاست جمهوري اوکراین ګفت که وي مخالف انتقال اسلحه ذروي ازاوکراین به روسیه میباشد . بعضي اوکرانیها ابرازنګراني کرده اند که اګر اوکراین اسلحه ذروي را ازقلمروخود خارج سازد بیم آن مي رود که روسیه آنکشور را تخویف کند.

پارلمان شوروي ...

هزار عسکر شوروي تادیه قروض خارجي ذخایر انرژي حمل ونقل وحقوق اقلیت بزرګ روسها درمنطقه است . براي مسکو آزادي دول بالتیك به معني ازدست دادن این اقدام همچنان روسیه را ازناحیه لیننګراد قطع خواهد کرد . لیتوانیا وبحیره بالتیك آنرا احاطه کرده این حوزه که دراطراف شهر که درحاشیه، ساحل واقع است بعد ازجنګ جهاني اتحاد شوروي آنرا ازخاك المان جدا ساخت ګورباچوف رئیس شوروي تشکیل یك کمیته را دستور داد تا مقامات بالتیك روي جریانات جدائي ازاتحاد شوروي مذاکره کند . این هیئت شامل نمایندګان فدراسیون روسیه که بادول بالتیك مرز مشترك دارد میباشند .
نفوذ شوروي بردول بالتیك تنها ماهیت نظامي ندارد بلکه این سه جمهوریت ازناحیه انرژي و مواد خام تا اندازه، زیاد بر اتحاد شوروي متکي میباشند . نیکلاي تایلن نماینده، پارلمان لتویا که یك اقتصاددان است اخیراً دریك مصاحبه ګفت کشور بدون ذخایر انرژي شوروي براي مدت طولاني دوام نخواهد کرد . یك راه براي دول بالتیك دررفع این مشکل موجود است وآن پیوستن به یك جامعه، اقتصادي متشکل ازجمهوریت هاي شوروي که رئیس جمهور ګورباچوف پیشنهاد کرده است . لتویا و استونیا قبلاً آمادګي شانرا براي چنین کاري رانمود کرده است

دورد ګوپه ...

دي چي د (۱٥) تنومړي لاتراوسه په نوموړوپوستوکي پراته دي اویوشمیر نورئي سخت ټپیان شویدي .

دخبرځاي درپوټ له مخي مجاهدینو نوموړي سیمي ته نژدي د ملاوردګ په نامه پوستوباندي په برید سره د ملحد رژیم د قواو خلور ټانکونه دهغو له سپرلیو سره د اورلمبه کړي دي .

درغزني چارقطاع ...

مجاهدین دستګیر ګردیدند که بتاریخ ۲٤ سرطان راه مسافرین راګرفته اموال آنها را تاراج ویکتن راشهید ودوتن دیګر رامجروح نموده بودند .

درګزارش علاوه ګردیده است که شوراي قضایي مالستان بعد از (۵۰) روز تحقیقات همه جانبه به عنوان قطاع الطریق حکم اعدام آنها را صادر ومحکومین درحضور چهار هزار نفر بروز ۲٦ سرطان تیرباران ګردیدند .
طبق ګزارش علاوه براعدام چهار نفر ،انګشتان دست راست یك دزد دیګر نیز درآن جتماع بریده شد .

چین استقلال کشورهاي ...

پیکنګ – ۱۷ سنبله

به اساس ګزارش رادیو صداي امریکا چین استقلال سه کشور بالتیك ، لتویا ، استونیا و لیتوانیا را برسمیت شناخته است .

ګزارش مذکور میافزاید چیانګ شي چیانګ بروز جمعه ګفت که چین آماده است تا روابط دوستانه را با اینکشور ها تأسیس نموده و با ایشان همکاري نماید .

مجاهدینو په غورکښې د دښمن دری پوستې فتح کړې

دغور له ولایت نه په رارسیدلي رپوټ کي ویل شویدي چي مجاهدینو ددوړي په ١٤ نیټه ددغه ولایت مرکز دچغچران دښار پرامنیتي پوسټو ددرندو وسلو څخه په استفادي سره یو لړ بریالي عملیات ترسره کړل چي دهغه په نیتجه کي دکابل رژیم دري پوستي نیول شوي . یو زیات شمیر عسکر اوملیشه مړه یوشمیر نور یې تیتبدلي دي .
رپوټ زیاتوي چي مجاهدینو دکابل دملحد رژیم قواؤ ته سربیره پرمالي اوځاني تاوانونو اړولو درژیم له پلویانو نه یوشمیر وسلي ، مهمات اولوژستیکي مواد په ولجه نیولي دي درپوټ مطابق پدي جګړه کي دمجاهدینو څخه هم یو تن شهید او یو بل تن ټپي شویدي .
دغه راز دخبر ځاي دیویل خبرله مخي مجاهدینو دکندهار په ولایت کي دوږي دمیاشتي په (٥) نیټه دتورکوتل پرپوسټو برید وکړ چي دهغه په اثر دکابل رژیم دقواؤ یوشمیر عسکر اوملیشه وژل شوي او یوه عراده پوځي لاري دسپرلیو سره له مینځه تللي ده .

ګورباچوف او ملي ...

« محافظه کاره مؤسسه د امریکا دخارجي سیاست په اروند د بوش حکومت ته توصیه کوي اودشرقي اروپا اود شوروي قومي ناآرامیوته په اشاري کولو سره وایي

دغه ناکراري ښیي چي آزادي غوښتونکي قومي ډلي د تل له پاره دمسکوترکنټرول لاندي ندي راغلي اوپه همدي دلیل بوش باید د قومي څمکوله پاره د « آزادي راډیو » پروګرامونه زیات کړي . په محلي ژبوترجمه شوي د انجیل کتابونه دي په قاچاقي توګه دغوسیموته ورودنه کړي خودروسانواوقومي ډلوترمینځ اختلافاتوته لمن ووهي اود مرکزي آسیا په جمهوریتونوکښي دي له اسلامي ګروهنوته ګټه پورته کړي » .

په دي اساس غرب داهڅه کوي چي ګورباچوف زیاتي عقب نشیني ته ترغیب کړي اوپه عین حال کښي چي نویوانکشافاتوته سه راغلاست وایي له دغي لاري ته په نړیوالومعادلاتو کښي د لازیات امتیاز په هیله دي .

د وروستي ناکامي کودتا څخه وروسته په روسیه کښي آزادي غوښتونکي تحریکونه نورهم ځواکمن اوګرندي شول . د بالتیك په دري جمهوریتونوکښي لتویانو ، لتوانیانو اواستونیانوخپلي خپلواکي ترلاسه کړي اونور ملیتونه هم له روسیي څخه د خپلواکي په تکل کښي دي خو پاتي شوه داموضوع چي دهغو اتو ملتونو سرنوشت په څنګه کیږي چي د دوهم نړیوال جنګ په جریان د خپلو اصلي وطنونوڅخه مرکزي آسیا اوسایبیریانه لیږدول شوي دي . د والګا جرمنیان ، قالموقان ، دکریمیا تاتاریان ، چچنیان ، اینګوش ، بالکاران ، قره چاریان او مسختیان هغه قومونه دي چي ټول په زووله خپله ځایه بیځایه کړای شول . بیا وروسته د شوروي یوبل مشرنیکتاس خروشچف د قومونو دغه لیږدول یو وحشیانه عمل اود لنین له پالیسي څخه حرګنده سرغړونه وبلله .
د شوروي حکومت،وروسته ددي قومونو په سر یوځه لاس کش کړ اوله هغي جملي نه یي پنځوملتونوته اجازه ورکړه چي خپلوټاټوبیوته ستانه شي ، خبردي که هلته کورهم ونلري . د نوروودري ملتونوسرنوشت بل ډول ؤ . دوالګا جرمنیانو اودکریمیاتاتاریانو ته وویل شول چي تاسي له قومي توره پاك پاستئ خو خپلو وطنونوته دورتلو اجازه نلرئ اومسختیانوته چي د قومي خیانت له توره بیخي پاك هم ؤ اجازه ورنکره شوه چي خپلواصلي ټاټوبیوته ستانه شي . دي کارله پاره رسمي دلیل داؤ چي نورنو د دوي له پاره په خپلو وطنونوکښي ځاي نشته اود دوي په پلرنیو ځمکوباندي نورخلك میشته شوي دي . د کریمیا تاتاریانو اومسختیانو خپلوطنونو ته د ستنیدلو اود خپلواکي د حق د لاس ته راوړلو په لارکښي په لس هاوو کلونه مبارزه کړي اوزیاتي ربړي اوتکلیفونه یي په دي لارکښي ګاللي دي . مسختیان اوس دوه ډلي شوي یوه ډله یي غواړي چي بیرته په ګرجستان کښي میشته شي اوهغه بله ډله ترکیي ته د مهاجرت په تکل کښي ده .

د کریمیاتاتاریان چي یو خوبې شمیرزیات دي اویل به منظم دي همدا اوس یي یوځل بیا خپل غږ پورته کړي اود روسیي د فدراسیون له جمهور رئیس ته یي غوښتني دي چي د هغوي سیمي ته دي خپلواکي ورکړل شي .

د شوروي د حکامو یوبل مشکل دادي چي هغوي په مختلفو دوورونو کښي په قصدي توګه د « روس » د قوم مختلفي ډلي د شوروي په مختلفو جمهوریتونو کښي ځاي په ځاي کړي دي . په همدي اړه د کړني ، د صنایعوډپراختیا له پاره یي ډلي ، ډلي روسي کارګران اوبز ګران . له دویمي نړیوالي جګړي نه مخکښي د شوروي لری پرتو سیموته ولیږل اوبیا په دي سیمو کښي یي دغو روسانوته د ژوند ډیرښه وسایل اوامکانات په لاس کښي ورکړل . که چیري په شوروي کښي دغه ملي آزادي غوښتونکي تحریکونه نورهم ځواکمن اوګرندي شي نو په دغو سیموکښي ددغو روسانو موجودیت هم په خطر کښي اچوي چي بیا به د مرکزي حکومت مشران له یوي بلي غټي ستونزي سره لاس اوګریوان وي .

ددغه مشکل یوه بله کړي داهم ده چي په خپله د روسیي په فدراسیون کښي هم یوشمیر داسي ملتونه ژوند کوي چي همدا اوس د خپلواکي د لاس ته راوړلو په تکل کښي دي له هغي جملي یوهم تاتاریان دي چي څه موده مخکښي یي له دغه جمهوریت نه د خپلواکي ناري پورته کړي،په آخرکښي داتیجه په لاس راځي چي د شوروي د ملیتونو ستونزه دومره، وړه او کوچني ستونزه نده چي ګورباچوف یي اټکل کوي بلکي داستونزه شوروي داسي یوکړوني جګړي ته ورووراندي کوي چي غربیان یي کلونه کلونه په تمه ناست ؤ .

پتــــــه :
پېښــور - پاکستــان
P.O.BOX---- 467